التعليم فوق الجميع | education above all

# راځئ چې ۱۰ جوړ کړو

| | |
|---|---|
| **درجه** | ۰ د عمر ګروپ (له ۴ څخه تر ۵ پورې) |
| **اړينې سرچينې** | داسې کارتونه چې له ۱ څخه تر ۱۰ پورې شمیرې پرې لیکل شوي وي (۲۰ یا ۳۰ دا ډول کارتونه دوه یا درې ډلو لپاره) |
| **د سرچينو لپاره بدیلې لارې** | ډلو ته کارتونه چمتو کړې ۱۰ څخه تر ۱ لوبان باید په لاندې ترتیب کې له:<br>1. ۲۰ یا ۳۰ کارتونه باید د واړو لوبغاړو د ۴ ګوتو په پړې کې ضع ع په ګوتو کړي<br>2. په یوه سیټ د کارټونو له ۱ څخه د ۱۰ پورې عددونه ولیکئ، او همدا شکل کچیرته اړتیا وي دوهم سیټ او دریم سیټ ته یې هم تکرار کړئ. |
| **د پوښښ موضوع** | شمېرې او عملیات |
| **پر ذهن شوي مهارتونه** | د شمیرو د رابطو تمرین کول |
| **الهام اخيستنه** | We are the Teachers |
| **اړين وخت** | ۱۵ دقیقې د لوبې لپاره<br>۱۰ دقیقې د لویانو له لوري د کارتونو د چمتو کولو لپاره |
| **پخوانيو درسونو ته اړتيا** | جمع او تفریق له ۱ څخه تر ۱۰ پورې<br>د ۱ څخه تر ۱۰ پورې شمیرې |
| **ملاتړ** | منځنی ملاتړ |

د لوبې قوانین:

| | |
|---|---|
| **موخه** | د نوټ کارټونو په واسطه سيالی وکړئ چې څوک کولی شي ۱۰ نمرې وګټي. هر هغه ټیم چې تر ټولو ډیرې نمرې ولرې، ګټونکی دی. |
| **قوانین** | د ټیم غړي کولی شي چې ددې په اړه بحث وکړي چې کومه شمیره جمع کړي چې ۱۰ جوړ کړي. کله چې یو لوبغاړی په لوبو کولو شروع وکړي بیا اجازه نه لري چې بل کارټ واخلي او یا له بل چا سره ځان تبدیل کړي. |

| | |
|---|---|
| **مرحلې** | اوله مرحله: دوه او یا درې ګروپونه په دوه یا درې نورو ډلو وویشئ چې دوه نفرې یا درې نفرې وي.<br><br>دوهمه مرحله: هر یو ګروپ ته له ۱ څخه تر ۱۰ پورې نوټ کارټونه ورکړئ. او هر لوبغاړي ته مشخص نوټ کارټونه توضیع کړئ. د بیلګې په توګه: اول لوبغاړی د ۲، ۳، ۴، ۶ او ۸ شمیرو کارتونه لري او دویم لوبغاړی باید د ۱، ۵، ۷، ۹، او ۱۰ شمیرو کارټونه ولري.<br><br>دریمه مرحله: په لوبه کې استاد به د هر یوه ګروپ څخه باید په مساوي فاصله کې لرې ودریږي مثلا له ۴ څخه تر ۵ مترو پورې.<br><br>څلورمه مرحله: استاد به له ۱ څخه تر۹ پورې یوه شمیره وایې. هغه زده کوونکی چې داسې شمیره ولري چې د ویل شوې شمیرې سره په جمع کولو د ۱۰ شمیره پوره کوي، باید غبر وکړي او د ټولګې مینځ ته منډه واخلي. د بیلګې په توګه: کچیرته استاد د ۳ شمیره ووایې، هغه لوبغاړي چې د ۷ شمیرې لري باید د ټولګې مینځ ته منډه کړي.<br><br>پینځمه مرحله: هغه ټیم یوه نمره ترلاسه کوي چې استاد ته ژر (اول) ورسیږي.<br><br>شپږمه مرحله: استاد باید تر هغه پورې شمیرې ووایې ترڅو چې هر لوبغاړي ته د منډې نوبت ورسیږي او یا تر ۱۰ ټولې شمیرې ختمې کړي.<br><br>اوومه مرحله: هغه ټیم چې تر ټولو زیاتې نمرې لري د لوبې ګټونکی شمیرل کیږي.<br>. |

| | |
|---|---|
| **په لوبه کې بدلونونه** | همدا لوبه کولی شئ د منفي (تفریق) لپاره د همغو شمیریزو کارتونو څخه په ګټه اخیستنې وکاروئ. استاد له ۱۱ څخه تر ۲۰ پورې شمیرې وایې او زده کوونکې باید دداسې عدد سره د ټولګې مینځ ته منډه واخلي چې که د ویل شوې شمیرې څخه تفریق شي نو د ۱۰ شمیره به لاس ته راشي. |
| **لوکينغ** | همدا لیدیول و اپل ېنیوزا ولوک هدنچ هود د هبول شي. استاد باید داسې یو ځواب ووایې چې زده کوونکي یوه شمیره له ۲ سره ضرب کړی ترڅو همغه ځواب ترلاس کړي. د بیلګې په توګه استاد د ۶ شمیره وایې او هغه زده کوونکې چې داسې یو عدد ولري چې له ۲ سره ضرب شي او همدغه ځواب ترلاسه شي د ټولګې مینځ ته منده کولي. مثلا د ۶ لپاره د ۳ عدد. |
| **لوکهداس** | د لوبې دوباره ترسره کولو لپاره، زده کوونکو ته اجازه ورکړئ چې په خپل ټیم کې له یوبل سره مخکې له منډې وهنې مشوره وکړي. |